التعليم فوق الجميع | education above all

# د هوا حالات څنګه دي؟ (لومړۍ درجه)

| | |
|---|---|
| **توضیح** | د موسمونو په اړه، په هوا کې د بدلون په اړه او دا چې موږ د هوا له تغیر سره څنګه ځان عیاروو پوهاوی ترلاسه کړئ |
| **مخکښه پوښتنه** | آیا تاسو په دې پوهیږئ چې موږ د موسمونو له بدلون سره ځانونه څنګه عیاړو؟ |
| **ټولټال اړین وخت** | په ۵ ورځو کې ۱ ساعت هر ورځ او په ۶ ورځ کې د موضوع د بیان لپاره ۳۰ دقیقې |
| **اړین توکي** | ورقه، قلم، پنسلونه، رنګونه، بیلابیلې جامې، کاغذي پیالې، مارکر، د لوبو یوه نانزکه، او کمپله |
| **د زده کړو پایلې** | • د انسانانو او ژو د هوا له بدلیدلو سره سمون (عیاریدلو) په اړه پوهاوی<br>• د بیلابیلو موسمونو پیژندل<br>• د موسمونو د برخو/جزؤنو په اړه پوهیدل |
| **مخکینیو زده کړو ته اړتیا** | هیڅ |

## لومړۍ ورځ

نن ورځ به تاسو د موسم او فصلونو تر منځ توپیرونه او ورته والی زده کړئ.

| وړاندیز شوی وخت | فعالیت او توضیحات |
|---|---|
| **۵ دقیقې** | • زده کوونکي به د بیلا بیلو فصلونو او هوا په اړه خپل معلومات شریک کړي. دوی به همدا راز ددې په اړه چې موږ د مختلفو فصلونو سره څنګه تطابق کوو خپل معلومات شریک کړي.<br>• مختلف موسمونه (فصلونه) بیلابیل د هوا حالات له ځان سره راوړي او موږ په مختلفو فصلونو کې په مختلف ډول چلند کوو. |
| **۵ دقیقې** | • زده کوونکي به ۴ هغه فصلونه (موسمونه) انتخاب کړي چې دوی یې پیژني. (پسرلی، دوبی (اوړی)، پشه کال (باراني موسم)، خزان، ژمی، حاصلات او داسې نور. |
| **۱۰ دقیقې** | • د موسمونو (فصلونو) د ځانګړتیاو د معلومولو لپاره به زده کوونکي د خپلو کورنیو سره د فصلونو په اړه خبرې وکړي. |
| **۲۰ دقیقې** | • د انتخاب شوو فصلونو څخه به زده کوونکي د دوو فصلونو په اړه انځورونه رسم کړي. دوی به همدا راز خپل ټول هغه معلومات ولیکي چې د مختلفو فصلونو په اړه یې لري. دا معلومات به په لاندې برخو باندې مشتمل وي:<br>۱) د انتخاب شوي موسم سره دوی (زده کوونکي) کوم رنګونه شریکوي. ۲) د هوا (موسم) عناصر لکه: لمر، وریځې او داسې نور ۳) په دې فصل (موسم) کې معمولا کوم کارونه ترسره کوو او داسې نور.<br>د کورنۍ غړي یا ښوونکي کولی شي معیارونو ته پاملرنه وکړي لکه: په فکر او ډیزاین کې خلاقیت، په پلان او فکر کې دقت، په کار کولو کې استقامت او استحکام او په ټولیزه توګه ګډون. |

1 EAA welcomes feedback on its projects in order to improve, please use this link: https://forms.gle/LGAP9k17fMyJrKJN7

| | |
|---|---|
| | |
| ۱۵ دقیقې | • زده کوونکي به په دې فکر پیل وکړي چې اصلي توپیرونه د هغه څه پر بنسټ دي چې دوی هغه رسم کړي دي او د کالم په توګه به یې ولیکي.<br>*لارښوونه: که زده کونکي د لیکلو توان نلري، مور او پلار کولی شي د دوی سره د تورو په موندلو کې مرسته وکړي یا د هرې کلمې څو حروف ولیکي.* |

## دوهمه ورځ

نن به تاسو د ۴ ختلفو فصلونو (موسمونو) د توپیر او ورته والي زده کړې ته دوام ورکړی.

| وړاندیز شوی وخت | فعالیت او توضیحات |
|---|---|
| ۲۰ دقیقې | زده کوونکي به د پاڼي دوه نورو موسمونو او د هغه څه په اړه چې دوی پرې پوهیږي رسم کړي. دا معلومات به لاندې نقطې له ځانه سره لري:<br>1 . هغه جامې چې دوی یې اغوندي<br>2 . له دغه موسم سره دوی کوم رنګونه تړي<br>3 . د موسم برخې یا ځانګې لکه: لمر، وریځې او داسې نور<br>4 . په دغه موسم کې معمولا مور کوم کارونه ترسره کوو، او داسې نور |
| ۱۵ دقیقې | زده کوونکي به د هغو رسامیو پر بنسټ چې دوی ترسره کړې، د موسم د مختلفو برخو په اړه فکر وکړي او بیا به هغه په کالمونو کې ولیکي. |
| | *لارښوونه: که چیرته زده کوونکي لیکل نشي کولای، ددوی والدین کولی شي له هغوی سره د ځینو کلماتو په لیکلو کې مرسته وکړي.* |
| | زده کوونکي به د بیلابیلو جامو په اړه فکر وکړي چې په مختلفو موسمونو کې اغوستل کیږي. |
| ۱۰ دقیقې | آیا تاسو د مختلفو لباسونو بیلابیل شکلونه احساسولی شئ؟ آیا هغوی نرې جامې دي او که ډبلې؟ دا جامې مور سره څه مرسته کوي؟ آیا د شمال، باران او یا لمر څخه مخنیوی کوي؟ هڅه وکړئ چې بیلابیلې جامې واغوندی ترڅو په دې پوه شی چې تاسو څه احساس لرئ. |
| | **اختیاري فعالیت: آیا تاسو پوهیږی چې د نړۍ په بیلابیلو ځایونو کې خلک څنګه جامې اغوندي؟ آیا تاسو پوهیږی چې دا جامې د بیلابیلو موسمونو سره څه تغیر پیدا کوي؟** |
| ۱۵ دقیقې | اوس به زده کوونکي د خپلو اندونو پر بنسټ بیلابیلې داسې جامې رسمې کړي چې خلک یې په مختلفو موسمونو کې اغوندي. او همدا راز، دوی به دا هم توضیح کړي چې ولې دا جامې اغوندي. |

## دریمه ورځ

تاسو به نن هغه موسم تشخیص کړئ چې تاسو پکې اوس مهال اوسیږی. همدا راز، تاسو به ددغه موسم بیلابیلې ځانګړتیاوې هم تشخیص کړی.

2 EAA welcomes feedback on its projects in order to improve, please use this link: https://forms.gle/LGAP9k17fMyJrKJN7

| وړاندیز شوی وخت | فعالیت او توضیحات |
|---|---|
| ۱۵ دقیقې | • ګرم او سوړ: یو سوړ شی لکه یو ګیلاس یخې اوبه بیرون(بهر) او یا په کړکۍ کې لمر ته کیږدئ. په څومره وخت کې دا اوبه ګرمیږي؟ که چیرته د ژمي موسم وي، زده کوونکې کولی شي یو ګیلاس ګرمې اوبه د کوټې څخه بیرون (بهر) او یا په پرانیستل شوې کړکۍ کې ایښودلی شي. ددغو اوبو یخوالی څومره وخت نیسي؟ ستاسو په اند ولې داسې کیږي؟ زده کوونکي به د خپل دغه فعالیت په اړه خپل معلومات ولیکي او دا به تشریح کړي چې ددوی ایښودل شوی توکی په څومره وخت کې سوړ یا ګرم شو.<br>• لاربښوونه: د موسم د یخوالي او ګرموالي په مطابق به د زده کوونکو توکی سوړ یا ګرم شي. |
| ۱۵ دقیقې | • د لمر حرکت: په یوه ورځ کې تاسو د څومره وخت لپاره لمر لیدلی شئ؟ آیا تاسو چې کله له خوبه را پاڅیږئ، لمر راختلی وي؟ لمر په کوم وخت کې پریوځي؟ آیا تاسو د ساعتونو تعداد شمیرلی شئ چې لمر پکې ولاړ وي؟ آیا ستاسو په یاد ده چې په نورو موسمونو کې لمر د څو ساعتونو لپاره ولاړ وه؟ زده کوونکي به ددې په اړه چې لمر څو ساعته ولاړ وي او که خیژي او یا پریوزي خپل معلومات ولیکي. |
| ۱۵ دقیقې | • پاک آسمان او که وریځې لرونکی آسمان: تاسو په آسمان کې څه وینئ؟ د ورځې په اوږدو کې، آیا آسمان کې ډیرې وریځې وي او که پاک وي؟ آسمان د شپې له خوا څنګه ښکاري؟ آیا تاسو کولی شئ چې ډیر ستوري او سپوږمۍ په روښانه ډول سره وګورئ؟ زده کوونکي به آسمان د ورځې او شپې له خوا رسم کړي او هغه معلومات به پکې ولیکي چې دوی یې په آسمان کې لیدلي شي. |
| ۱۵ دقیقې | • د اوبو غونډول: که چیرته موسم باراني وي، زده کوونکي به یوه کاغذي پیاله را واخلي او پر هغې به د مارکر په واسطه درې درجې رسمې کړي. زده کوونکي به یو خط کش یا کوم بل د اندازه کولو توکی وکاروي. دوی به د لومړۍ درجې لپاره ۲ اینچه ولیکي، د دوهمې درجې لپاره به دوی ۴ اینچه ولیکي او د ۳ درجې لپاره به دوی ۶ اینچه ولیکي. که چیرته خط کش نه وي موجود، زده کوونکي کولی شي چې له خپلو ګوتو څخه د اندازه کوونکو توکو په حیث کار واخلي. دوی کولی شي لومړۍ درجې ته د دوه ګوتو د پلنوالي په اندازه درجه وټاکي، دوهمې درجې ته ۴ ګوتې او دریمې درجې ته ۶ ګوتې. زده کوونکي به دغه پیاله په کړکۍ کې کیږدي او یا به یې د باران له اوبو څخه ډکه کړي ترڅو دا معلومه کړي چې څومره باران اوریږي/اوریدلی دی. له دې څخه وروسته زده کوونکي کولی شي چې په نښه شوې پیاله تشریح کړي. زده کوونکي باید ډاډ ترلاسه کړي چې دا پیاله په یوه سم ځای کې ایښودل شوې ده ترڅو د هغې د چپه کیدلو څخه مخنیوی وشي. زده کوونکي کولی شي خپله اندازه ګیری د ورځې او یا حتی د یوې اونۍ په اوږدو کې ترسره کړي. دوی باید ډکه پیاله چپه کړي. |
| ۱۵ دقیقې | شمال: زده کوونکي به په کړکۍ او یا هم خپل باغ کې ودریږي. آیا د هغوی ویښتان خوځیږي؟ آیا هغوی کولی شي چې دا معلومه کړي چې ددوی ویښتان په کوم لور حرکت کوي؟<br>زده کوونکي به یوه ورقه، واښه او یا هم یوه پاڼه د کړکۍ څخه بهر (بیرون) ونیسي. آیا شمال د وړي؟ شمال دا توکی په کوم لور وړي؟<br>زده کوونکو ته اجازه ورکړئ ترڅو سپک توکي را واخلي او وګوري چې آیا دا توکي الوزي او یا هوا ورته حرکت ورکوي؟ کوم شیان الوزي یا هوا ورته حرکت ورکوي؟ |

3 EAA welcomes feedback on its projects in order to improve, please use this link: https://forms.gle/LGAP9k17fMyJrKJN7

| | |
|---|---|
| | زده کوونکي کولی شي دوه کالمونه جوړ کړي – په یوه کالم کې باید هغه توکي ولیکي چې هوا یې وړي او یا ورته حرکت ورکوي او په دوهم کالم کې باید د هغو توکو نومونه ولیکي چې هوا یې نه وړي او یا حرکت ورته نه ورکوي ترڅو دا جوته کړي چې هوا (شمال) څومره شدید دی او په کوم لوري حرکت کوي. |

## څلورمه ورځ

نن به تاسو دا معلومه کړئ چې په پاڼو، نباتاتو، او میوو باندې په دغه موسم کې څه ترسره کیږي.

| وړاندیز شوی وخت | فعالیت او توضیحات |
|---|---|
| ۲۵ دقیقې | • زده کوونکي د کور څخه بهر ونو، پاڼو او نباتاتو ته ځیر شي ترڅو دا معلومه کړي چې په دغه موسم کې په نباتاتو او پاڼو باندې څه پیښیږي او څنګه ښکاري. د دوبي په موسم کې ونې د ژمي او باراني موسم سره ډیر توپیر لري. آیا تاسو ته مخکینی کوم بل موسم په یاد دی؟ په هغه موسم کې ونې او نباتات څنګه ښکاریدل؟<br><br>پوښتنه: آیا ډیر ګلان شته؟ پاڼې په کوم رنګ دي؟ آیا ونې پاڼې لري او که لوڅې شوې دي؟ |
| ۲۵ دقیقې | زده کوونکي به د بیلابیلو سبزیجاتو او میوو په اړه پوهاوی ترلاسه کړي چې په مختلفو موسمونو کې پیدا کیږي. زده کوونکي به د هغو میوو او سبزیجاتو په اړه فکر وکړي او تشریح به یې کړي چې د دوی په فعلي موسم کې شتون لري. بیا به، هغوی د خپلې خوښې میوې او سبزیجات تشریح کړي. آیا هغه مختلف دي؟ ولې تاسو داسې فکر کوئ؟<br><br>لارښوونه: په بیلابیلو موسمونو کې مختلفې میوې او سبزیجات پیدا کیږي ځکه د هغوی رشد (نمو) د لمر او اوبو د مختلفو درجو سره تړاو لري. |
| ۱۰ دقیقې | • زده کوونکي به دا معلومه کړي چې دوی څنګه کولی شي چې پاڼې وساتي. زده کوونکي به یوه پاڼه یا یو ګل د خپل باغ یا باغچې څخه را واخلي او باید وګوري چې په هغه څه کیږي. زده کوونکي به دا ګل د یوه دروند شي څخه لاندې کیږدي او یا به یې په یوه کتاب کې چخپیت (پریس) کړي. بیا به دوی، دغه ګل یا پاڼه د یوه کارټ په توګه وکاروي. |

 EAA welcomes feedback on its projects in order to improve, please use this link: https://forms.gle/LGAP9k17fMyJrKJN7

## پینځمه ورځ

نن ورځ به تاسو د موسمونو له بدلون سره د حیواناتو او الوتنکو د څرنګوالي په اړه معلومات ترلاسه کړی.

| وړاندیز شوی وخت | فعالیت او توضیحات |
|---|---|
| ۵ دقیقې | • زده کوونکي به د مختلفو/بیلابیلو هغو الوتونکو په اړه فکر وکړي چې ددوی په کور، ښار او یا هیواد کې اوسیږي. |
| ۱۰ دقیقې | • مختلفو موسمونو ته په کتو سره دا ووایئ چې الوتونکي څنګه خپل ځانونه ګرم او یا یخ ساتي. آیا د هغوی پوستکي او بڼکې ستاسو د جامو په څیر دي؟ آیا هغوی پیړې یا ګرمې بڼکې لري؟ |
| ۱۰ دقیقې | تاسو په ګرمۍ کې څه کوی؟ ستاسو په نظر حیوانات په ګرمۍ کې څه کوي؟ فکر وکړی چې تاسو پکې او یا هم ایرکنډیشنر نه لری، تاسو به د ډیرې ګرمۍ په وخت کې څه کار ترسره کړی؟ زده کوونکي به ددې په اړه چې حیوانات د ګرمۍ په موسم کې څه ترسره کوي، رسمونوه وکاږي او تشریح به یې کړي.<br>• لاربښوونه: داسې یوه دهلیز کې ودریږئ چې هوا پکې چلیږي، د سیوري لاندې ځان پټ کړئ او یا هم په یوه حوض کې لامبو ووهئ. |
| ۲۰ دقیقې | تاسو د یخنۍ په موسم کې څه کارونه ترسره کوی؟ ستاسو په نظر حیوانات او الوتونکي څه کارونه ترسره کړي؟<br>لاربښوونه: ډیری حیوانات په ژمني خوب باندې ویده کیږي. ژمنی خوب = په ټول ژمي کې یو ګرم کور. او الوتونکي معمولا ګرمو ځاینونو ته الوځي.<br>• آیا تاسو د حیواناتو لپاره یو ګرم ځای جوړولی شی چې هغوی پکې د ټول ژمي لپاره واوسیږي؟ په هغه کور کې به تاسو کوم توکي کیږدی؟ (د بیلګې په توګه: خواره، کمپله، هغه شیان چې هغوی ورسره لوبې وکړي او داسې نور.) |

## شپږمه ورځ

نن ورځ به تاسو د مختلفو موسمونو په اړه خپل معلومات او موندې د خپلو کورنیو سره شریک کړی!

| وړاندیز شوی وخت | فعالیت او توضیحات |
|---|---|
| ۳۰ دقیقې | زده کوونکي به د مختلفو موسمونو په اړه خپلې موندنې او معلومات شریک کړي او لاندې پوښتنو په اړه به خبرې وکړي:<br>• حیوانات یا الوتونکي څه ترسره کوي؟<br>• په نباتاتو او پاڼو باندې څه ترسره کیږي؟ او دا کار موږ باندې څه اغیزې لرې شي.<br>• زموږ تجربې موږ ته د هواء، لمر، باران او وریځو په اړه څه وایي؟<br>• په هر موسم کې موږ کوم ډول جامې اغوندو او ولې؟ |

 EAA welcomes feedback on its projects in order to improve, please use this link: https://forms.gle/LGAP9k17fMyJrKJN7

## د ارزونې معيارونه

- د بدلونونو په اړه په انتقادي ډول فکر کول
- د رسمونو او ليکل شو خطونو وضاحت او روڼتيا

## د غني کوونې اضافي فعاليت

- زده کوونکي کولی شي د خپل موسم د هوا د حالت معلومولو لپاره ترماميتر او له اخبار څخه کار واخلي

## د آسانتيا لپاره بدلونونه

- زده کوونکي کولی شي د هغو موسمونو د مختلفو حالتونو او بدلونونو په اړه خپل معلومات او موندنې را ټولې کړي چې دوی ته آسانه وي.

 EAA welcomes feedback on its projects in order to improve, please use this link: https://forms.gle/LGAP9k17fMyJrKJN7